شریعت

ورځپانه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پراو / ۱٦٥ ګڼه / چهارشنبه ۰٦ شوال‌المکرم ۱٤٤٤ هـ.ق / ۰٦ ثور ۱٤۰۲ هـ.ش / ۲٦ اپریل ۲۰۲۳ میلادي

د ریاست الوزراء سیاسي معاونیت مطبوعاتي اعلامیه

د افغانستان اسلامي امارت د امنیتي ځواکونو په هڅــو او د هېوادوالو په همــکارۍ، الحمدالله د روژې مبارکــه میاشــت او د کوچني اختر ورځې په بشپړ امنیت او ارامۍ سره تېرې شــوې.د امنیتي ادارو ترمنځ د ښــې همغږۍ او اغېزناک امنیتي پلان له امله ټولــو هېوادوالو د اختر خوښۍ له خپلو کورنیو سره په سوله ییزه او دادمنه فضا کې تېرې کړې.د ریاســت الوزراء سیاسي معاونیت د افغانســتان ملي دفــاع او کورنیو چارو وزارتونو او د استخباراتو لوي ریاست د مشــرتابه او په ځانګړي دول د ټولــو امنیتي ځواکونو مننه او قدرداني کوي چې شــپه ورځ يې د هېوادوالــو د امنیت ســاتلو هڅې وکړې او بشپړ امنیت يې تضمین کړ. دغه راز له خپلو هېوادوالو څخه هم مننه کوي، چــې له امنیتي ځواکونو سره همکار وو.امنیتي ځواکونو ثابته کړه، چې د هېواد د ساتلو او امنیت د ټینګښــت مســئولیت په ښه ډول ترسره کولای شــي او هېڅا ته به په افغانســتان کې د نا امنۍ او یا چاته د ګواښ پېښولو اجازه ورنه کړي. د اســلامي امارت ځواکونه د پولادي غره په څېر د هر... ۵مخ

تلاش ترکیه برای توسعه روابط میان امارت اسلامی و جامعه جهانی



بر اســاس یــک اعلامیــه ارګ، جهــاد آرگینــای ایــن موضوع را در دیــدار با عبدالســلام حنفي، معــاون اداري رياســت‌الوزراء بیــان نموده و افــزود که دولت و ملت ترکیــه به کمک‌های شــان به مردم افغانســتان ادامه خواهند داد.بــه گفتۀ آرگینــای، تاجران و ســرمایه‌گذاران ترکي نیــز تمایل جــدی بــه ســرمایه‌گذاری در بخش‌هــای صنعــت، تجارت و اســتخراج معادن در افغانســتان دارنــد.در همیــن حــال حنفي، گفته اســت که امارت اســلامي خواســتار توســعه روابط با تمام دولت‌ها است و از سرمایه‌گذاری خارجی در بخش‌هــای مختلف در افغانســتان اســتقبال می‌کند. امارت اســلامي، به‌دلیــل تعلیق تحصیــل و آمــوزش دختــران و ممنوعیــت کار زنان در اداره‌های غیــر دولتــی داخلــی و خارجی به‌شــمول دفترهای ســازمان ملل متحد در افغانســتان، با انتقاد تند جامعه جهانی مواجه است.

مجاهد: له نړۍ سره د مثبت تعامل په لټه کې یو

د طالبانو د حکومت ویندوي ذبیح الله مجاهد وایي، د دوي حکومت له نړۍ سره د مثبت تعامل په لټه کې دي خو نړیوالــه ټولنه د طالبانو د حکومــت د نه رســمیت پېژندلو لپاره پلمې کوي.بنــاغلي مجاهد د طالبانو د حکومت رسمیت پېژندنه د نړۍ په ګټه وبلله. ده زیاتــه کړه:«هیوادونو ته پکار ده چې د پلمو پر ځای خپله پالیســي اصــلاح کړي.»ســره لــه دې چې طالبان د ۲۰۲۱ په اګست کې واک ته رســېدلي او پر ټول هیواد بشــپړ کنترول لري خو تراوسه هېڅ هېواد د دوي اســلامي امارت په رسمیت نــه دي پېژندلي.نړیوالــه ټولنــه له طالبانو غواړي چې ښځو او نجونو ته لومړني بشري حقونه ورکړي، په حکومت کې لــه ملایانو پرته نورو افغانانــو ته ونډه ورکړي او بشــري حقونه رعایت کړي.خو طالبان فکر کوي چې نړیــوال ملامت دي او د دوي د حکومت د رسمیت پېژندلو لپاره غیرمنطقي پلمې کوي.

ماشین‌آلات زراعتی تولید شده در افغانستان به خارج صادر می‌شود

شــریعت: یــک شــرکت تولیدی داخلی بیــش از ۶۰ پایه ماشــین آلات زراعتــی را به خــارج صادر کرده است.

شــرکت تولیدی «جاویــد افغان» در ولایــت ننګرهار بیــش از ۶۰ پایــه ماشــین آلات زراعتــی را به کشورهای آسیای میانه صادر کرده که شامل شانزده پایه ... ص۵

اداره مهاجرین هرات:

نزدیک به ۹۰ میلیون افغانی کمک توزیع نمودیم

ریاســت امور مهاجرین و عودت کنندگان هرات مي گوید در ســال ۱۴۰۱ بــراي بیــش از ۲۳ هــزار خانــواده از طریــق نظــام امارت اسلامي و موسسات کمک توزیع نموده اند.

مفتــي آدم خان ســعد رییس این اداره در گفتگــو با خبرنگار آژانس باختر مي گوید که در سال گذشته به مبلغ ۳۲ میلیون افغانی ص۵

د افغانستان د تبلیغیانو مشر ومړ

د افغانســتان د تبلیغیانو د مرکز مشر مولوي خان زمان د ورپېښې ناروغۍ له امله ومړ.نومورې د ننګرهار ولایت اوسېدونکي و. په ننګرهار کې د طالبانو ولایتــي ادارې هــم د هغه پــه مړینه خواشیني ښودلې او د فعالیتونو ستاینه يې کړې ده.د تبلیغیانو ځینو سرچینو ویلي، چې د دوي شورا د مولوي زمان زوي د هغــه پر ځــاي خپل عمومي مشر ټاکلي دي.تبلیغیان د طالبانو له چوکاټ څخه د بانــدې، له محدودو مذهبي دلو دي، چې طالبانو د پخوا په شان فعالیت ته پرېښي او مخنیوي يې نه دي کړي.

استفاده از شبکه‌های اجتماعی؛ خوبی‌ها و بدی‌ها صفحه۲

د رسول الله (ص) دېرش خویونه ۲ مخ

امیرالمؤمنینی را که می‌شناسم! صفحه ۳

سرمقاله

به جای نشر گزارش‌های جعلی به ناکامی خود اذعان کنند

مردم افغانســتان در چهار دهه پسین نه تنها در آتش جنگ‌های نابرابر قدرت‌های متجاوز ســوخت، بلکه در جنگ‌های نیابتی و ذات‌البینی نیز خســارات، هنگفت مالــی و جانی را متحمل گردیدند که به گواهی تاریخ ادامه این جنگ‌ها، زیر ســاخت‌ها، تأسیســات، فابریکه‌های تولیدی، سیستم اداری، نظامی، سیاسی و فرهنگی را نیز صدمه رســانده است، اما آنچه که برای مردم آزاده افغانستان به عنوان دستاورد در این همه سال‌ها محسوب می‌شود، استقلال سیاسی، آزادی، غیر وابستگی و مهمتر از همه اســتحکام پایه‌های وحدت ملی اســت که این مؤلفه‌ها بعد از حاکم شــدن دوباره امارت اســلامی به افغانستان جامه عمل به خود گرفت و دشــمنان شکست خورده افغانســتان، به خاطر تلافی این شکســت ننګین‌شــان، ســعی کردند که نیرنگ‌ها و توطئه‌های استخباراتی‌شــان را به کار گیرند و فضای صلح‌آمیز کشــور را به جولانگاه گروه‌های نیابتی مبدل سازند تا به تجاوز بی‌شــرمانه و غیر موجه‌شان، بعد سال ۲۰۰۱ میلادی، مهر تائید گذارنــد که بدون تردید این همــه برنامه‌ها و پلان‌های مخوف اســتکبار به یاری پروردگار عالمیان نقش بر آب شــد و مردم مجاهد و با دیانت افغانستان زیر لوأ توحید جمع شدند حمایت و همــکاری خــود با امارت اســلامی را اعــلان و در تبانی با نیروهای امنیتی امارت، فضای امن و مسالمت‌آمیز را در سراسر کشور مهیا ســاختند که نمونه بارز آن، تأمین امنیت مطمئن و سراســری روزهای عید سعید فطر اســت، اما با تأسف در این اواخر واشنګتن‌پست بر بنیاد اطلاعات پنتاګون... ص۵

مشکلات بلاک‌های رهایشی خواجه رواش حل میگردد

محترم شــیخ حمدالله نعماني سرپرســت وزارت شهرســازی و مســکن با تعدادی از باشــندگان بلاک‌های رهایشی خواجه رواش کابل، دیدار کرد. ابتدا باشندگان بلاک‌هــای خواجــه رواش از عــدم تکمیل ۳۰ درصــدی کار بلاک‌های خواجه رواش صحبت نموده و خواهــان تکمیل کار این بلاک‌ها گردیدند .ســر پرســت وزیــر شهرســازی و مســکن با اســتماع مشــکلات آنان، وعده سپرد که مشــکلات آنان از طریق کمیته که ازجانب ریاســت الوزرا به همیــن منظور ایجــاد گردیده حل خواهد شد.

فراه کې ژوریې څاه ته د ۴ کلن ماشوم د ایستلو هڅې روانې دي

فراه ولایــت د داراباد کلي ته ځېرمه پــه حاجي کلو کاریــز کې د برمې ژوریې څاه ته د (محمــد) په نوم د ځلور (۴) کلن ماشــوم د ایستلو او ژغورنې کړنډۍ هڅې روانې دي.د یاد ماشــوم د ژغورنې لپاره ســیمې ته د فــراه ولایت د امنیــه قوماندان مولــوي عبدالظاهــر «خــادم» په کــډون د دې ولایت د عامې روغتیا مرستیال رئیس مولوي ... ۵مخ

د هوایي شرکتونو د ټکټ بیې لوړې شوې دي

یو شمېر سیاحتي شــرکتونه وایي، د تېــرو دوو کلونو په پرتله د هوایي ســفر بیه لوړه شوې چې له همدې امله د مســافرو په شــمېر کې هم کموالي راغلي دي. د دوي په وینا، دمکړۍ له کابله، دبی ته د الوتکې کرایه ۵۰۰ ډالره ده؛ په داسې حال کې چې دوه کاله مخکې دغه کرایه ۲۵۰ ډالره وه.یو شــمېر ســوداګر بیا وایي، افغانســتان تــه د بهرنیو هوایــي شــرکتونو د الوتنو د درېدو له امله د الوتکو کرایې لوړې شوې دي. دوي له سرپرســت حکومته غواړي چې پر دغــه بهیر په جدي توګــه څارنه ولري. بل لــور ته، د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت په نړۍ کې د الوتکــو د ټیلو د بیې لوړېدل په هېواد کې د هوایي سفر د بیې د لوړېــدو له ټولو مهم لامل ګڼي.

کونړ ته د سیلانیانو ور تګ ډېر شوی

کونــړ هغــه ولایــت دي، چــې د کوچني اختر په را رسېدو دې ولایت تــه د ســیلانیانو ور تګ ډېر شــوي دي.ســیلانیان خــوښ دي، چې په ټول هېواد کې د امنیت ترڅنګ د دې ولایت د ډاډمن امنیت او ســیلانیانو ته د رامنځ ته شــویو اسانتیاو له امله کونړ د ټېرو کلونو په نســبت د زیاتو سیلانیانو کوربه دي.ولسونه... ۵مخ

التبيُّن يا سپيناوی

د»تبيُّن» معنی

په يوه کار کې ښه سپيناوی وشي تبين، علم ته درسېدو له مرتبوڅخه يوه مرتبه ده مراد ترېنه هغه څه دي چې په يوه معنی کې له التباس وروسته حاصليږي، تبين هغه پوهه ده چې دالتباس له وقوع وروسته سړي ته حاصله شي اويقين يې وشي،

(٤٦٣) له ام سلمه رضی الله عنها روايت دی وايي : رسول الله(ص) دښی مصطلق قبيلې ته له هغوی سره له رامنځته شوې پېښې وروسته هغوی ته دزکات لپاره يوسړی وليږه، هغوی چې خبرشول نوله ده سره په داسې دول مخامخ کېدوته تيارېدل چې درسول الله (ص) دغه کارته په عظمت قائل اوپرې خوشحاله شي ، دا وايي چې په دې وخت کې شيطان ده ته په غوږکې ورکړل چې دوی دې وژني، نو بېرته رسول الله (ص) ته راغی او ورته ويې ويل : چې بنی مصطلق ماته دزکات له ورکړې ممانعت وکړ، نو رسول الله (ص) او مسلمانان دېرپه غوسه شول ، دښی مصطلق خلکو ته هم داخبرورسيد چې سړی ېبرته تللی، نو رسول الله (ص) ته راغلل ، رسول الله(ص) چې دماسپښين لمونځ وکړ، دوی يوصف ورته ودرېدل او ويې ويل : مورِ دالله اودهغه درسول له کرفت نه پناغواړو، مونږ ته دې يوزکات ټولوونکی سړی رالېږلی و، چې مونږ يې په راتلو خوشحاله اوسترکې مو پرې يخې شوې، خو ېبرته په نيمه لارکې کرځېدلی و،نو مونږ ووېرېدو چې هسې نه دا دالله تعالی اودهغه درسول دنارضايتی اوغوسې سبب شي، ترهغو ورسره غږېدل چې بالاخره بلال راغی اودمازديکراذان يې وکړ، نو په دې وخت کې دغه ايت نازل شو { يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ} (الحجرات/٦) .

ابن جريرهم دعوفي له لاړې له ابن عباس رضی الله عنهمانه دغه دول روايت کوي اوپه دې ايت کې وايي : رسول الله (ص) وليدبن عقبه بن ابی معيط بنی مصطلق قبيلې ته وليږه چې زکات تړې راټول کړي ، هغوی يې چې په راتلو خبرشول خوشحاله شول، راووتل ترڅو درسول الله (ص) له استازي سره ملاقي شي او ورسره ووينې، وليدچې پوه شوچې له ده سره مخامخ کېدل غواړي، نور سول الله (ص) ته ېبرته راغی او هغه ته يې وويل : چې بنی مصطلق ماته دزکات له ورکړې انکار وکړ،نو رسول الله (ص) په دې سره دېرزيات غوسه شو، هغه په دې کې غږېده چې جګړه به ورسره کوي، چې په دې وخت کې دهغوی وفد اوداستازو ټولی راورسېد، او ويې ويل : يارسول الله مونږ خبرشوي يو چې ستااستازی له نيمې لارې کرځېدلی اومونږ ووېرېدوچې غبرګون به يې ستا هغه ليک وي چې تابه پرمونږ غوسه کړي او مونږ په خدای تعالی باندې دهغه اودهغه درسول له غضبه پناغواړو، رسول الله (ص) يې راپارولی و او نور يې ددوی په وړاندې اقدام ترسره کاوه نو الله تعالی دغه ايت نازل کړ {يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا } مجاهداوقتاده بيانوايي چې رسول الله (ص) وليدبن عقبه دمصطلق زکات راوړلوته ليږلی و هغوی ورته زکات راټول کړی و او ورته راروان و، په دې وخت کې دی ېبرته راغلی و او رسول الله (ص) ته يې ويلی چې هغوی دجنګ لپاره تياری کړی ، قتاده وايي چې دايې هم ورسره ويلی وچې هغوی له اسلامه ګرځېدلی دي، نو رسول الله (ص) خالدبن وليدرضی الله عنه ور وليږه او ورته ويې ويل چې خبره ښه خانته معلومه اوسپيناوی وکړي اوعجله ونه کړې ، هغه روان شو اودشپې ور ورسېدنو پټ يې خلک ورولېږل چې معلومات يې وکړي، هغوی چې کله ېبرته راغلل معلومه شوه چې له اسلامه نه دي ګرځېدلي، دهغوی آذان اولمونځ يې اورېدلي وو، بياچې کله سهارشو خالدرضی الله عنه ورته راغی، نو هغه څه يې وليدل چې دی يې په تعجب کې واچاوه ، ېبرته رسول الله (ص) ته ورغی اوپوره حال يې ور ورساوه، نو الله تعالی همدا ايت نازل کړ، قتاده وايي : نو رسول الله (ص) به ويل : « سپيناوی دخدای اوتلوار دشيطان له لوري وي» (رواه الإمام أحمد في مسنده (المسند٩/٤)).

بريده رضی الله عنه وايي: ماعزبن مالک رسول الله (ص) ته راغی ويې ويل : يارسول الله ما خو له خپل ځان سره ظلم کړی اوزنا مې وکړه، پاک مې کړه، هغه ېبرته وليږه، سبا بيا ورته راغی او ويې ويل : يارسول الله، مازناکړې، هغه ېبرته وليږه، رسول الله(ص) يې قوم ته حال وليږه او ورته ويې ويل : تاسې څه وياست په عقل کې خوبه يې څه خلل نه وي ؟ هغوی وويل : نه بلکې ښه هوښيار اوپه عقل پوره دی، دريم ځل چې بيا ورته راغی، بيا يې هغوی ته حال ورولېږه، هغوی وويل : هيڅ هم نه دي پرې شوي او رک روغ دی، نو چې ځلورم خل راغی، کنده يې ورته ووېسته او درجم امر يې وکړ او رجم شو. (البخاري ـ الفتح١ـ(٦٦٨٢٤)، ومسلم (٥ـ)) .

حضرت عمر رضی الله عنه ته به چې هر کله له يمن نه مرستې ته خلک راتلل، هغوی نه به يې دا پوښته کوله چې: تاسو کې اويس بن عامر شته؟ تر دې چې (يوه ورځ) اويس ورته راغی، وېلې: ته اويس بن عامر يې؟ وېلې: هو. وېلې: ته د «مراد» «قرن» کلي اوسېدونکی يې؟ وېلې: هو. وېلې: پر تا پيس ناروغي لګېدلې وه، بيا ته ښه شوې يوازې د يوه درهم په اندازه ځای دې پاتې دی؟ وېلې: هو. وېلې: مور دې شته؟ وېلې: هو. وېلې: ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه اورېدلی وېلی يې دي : «تاسو ته به له يمن نه مرستې ته لښکر راشي ، په هغو کې به د مراد د قرن کلي نه اويس بن عامر راشي، پر هغه به پيس ناروغي لګېدلې وي ، بيا به ښه شي يوازې د يوه درهم اندازه ناروغي به يې پاتې وي، خپلې مور سره به نيکي کوي ، که دی په الله قسم وخوري، الله به يې قسم پوره کړي. نو که تا سوکولی شول له هغه نه دعا وغواړئ»، نو ماته دعا وکړه! هغه ورته دعا وکړه. بيا يې ورته ويل: چېرې ځې؟ وېلې: کوفې ته. حضرت عمر(رض)ورته وېل: د کوفې والي ته ستا په اړه څه ونه لېکم (چې مرسته درسره وکړي) وېلې: زه د فقيرانو ژوند دېر خوښوم. (مسلم (٢)).

د رسول الله (ص) دېرش خويونه

ژباړه: عابد مجاهد

استفاده از شبکه‌های اجتماعی؛ خوبی‌ها و بدی‌ها

اسفندیار

مزایای استفاده از شبکه‌های اجتماعی در لایه‌های مختلف جامعه ریشه دوانیده است؛ چی آن استفاده مثبت باشد یا منفی، در دنیای امروزی حرف اول را سرعت می‌زند، بناءً نقش انترنت در سرعت بخشیدن کارها و امورات روزمره نقش به سزای دارد.

جهان در دو دهه گذشته شاهد تغییرات چشم‌گیری بود و این دیگرگونی‌ها در سطوح مختلف از جمله سیاست، اقتصاد، فرهنگ و اجتماع تحولات عظیم را به میان آورد. این همه در سایه جهانی شدن انترنت و شبکه‌های اجتماعی رقم خورد و باعث شد امروزه جهان تبدیل به دهکده کوچکی شود که همه مردم را به دور هم جمع کند و انسان‌ها از سراسر جهان در تمام بخش‌های زندگی اجتماعی با هم در تعامل باشند. انترنت کمک بزرگی به تجارت‌های جهانی کرده و سهولت‌های قابل وصف را برای تاجران جهان جهت معرفی کالاهای شان به میان آورد.

نقش انترنت و مشخص‌تر نقش رسانه‌های اجتماعی در حوزه فرهنگ هم خیلی پر رنگ است. در کمترین زمان خرده فرهنگ‌های بومی به سراسر جهان گسترش یافت و تکثیر شد و بسا فرهنگ های سنتی دیگر را در سایه قرار داد و یا اصلاح کرد و یا هم از بین رفتند. به کلام دیگر امروزه بیشتر از کشورهای جهان به سوی یک‌نواختی و تا حدودی می‌شود گفت که در جهت تک فرهنگی روان اند.

در بخش آموزش و پرورش نیز آموزش‌های کلاسیک دارد جایش را به شیوه‌های نوین با استفاده از انترنت خالی می‌کند و پس از پاندمی کووید-۱۹ انترنت و فضای مجازی جایگاهش را ثابت کرد و در چند سال پسین اغلب پوهنتون‌ها و مکاتب درس‌های عدم حضوری برگزار می‌کردند، منهای کشورهای عقب مانده که فاقد زیرساخت‌های در این خصوص بودند بیشتر کشورهای توسعه یافته و یا در حال توسعه از وضعیت آموزش از راه دور راضی اند و دانش آموزان را هنوز هم از این طریق فارغ می‌دهند. بیشتر پوهنتون‌ها در کشورهای منطقه چون هند و جمهوری خلق چین هنوز هم از این میتود کار می‌گیرند و دانشجویان بیرون مرزی را به گونه انلاین تدریس می‌کنند.

همانگونه که در آغاز گفته شد انترنت جهان را به دهکده کوچک تبدیل کرده است جایگاه ویژه در تأمین ارتباطات دارد. از آنجایی که همه میدانند، دنیای امروز، دنیای ارتباطات است انترنت بیشتر از همه فضای ارتباطات را تقویت کرد. تا یک دهه پیش کانال های ارتباطی خیلی محدود و زمان گیر بود. اکنون در ظرف ثانیه‌ها می‌شود به دور ترین نقطه جهان وصل شد و ارتباط برقرار کرد و کسب معلومات نمود.

روی هم رفته همه پیشرفت‌ها که در عرصهٔ های مختلف دیده می شود رد پای انترنت را می‌توان آنجا یافت. در این قرن نبض بیشتر فعالیت‌های جامعه انسان در حیطه انترنت است. حکومت داری خوب با استفاده از انترنت و داده های انترنتی امکان پذیر است.

در کنار این همه، انترنت و استفاده نادرست از آن می‌تواند عواقب ویرانگر را هم به همراه داشته باشد. در گام نخست گستردگی و نفوذ ابزارها و شبکه‌های انترنتی در لایه‌های مختلف جامعه ماهیت استخباراتی دارد و کشورهای منبع، اغلب از طریق آن در پی اهداف سیاسی و استخباراتی شان اند. به همین خاطر در برخی کشورها استفاده از ابزارهای انترنتی که منشأ غربی یا امریکایی دارد مسدود است. به گونه مثال در جمهوری خلق چین شبکه‌های مجازی چون فیسبوک، تویتر، جمیل، یوتیوب، تلگرام و... همچنان بعضی از مرورگرها مسدود است و در عوض آن از ابزار دیگر به اسم وی‌چت(WeChat) که ساخت خود آن کشور است استفاده می‌کنند و تمام امورات اجتماعی از خرید تا فروش، کوچک و بزرگ و حتی در بس‌های شهری نیز از آن استفاده می‌شود و در بخش امنیتی نیز از (ویچت) کمک می‌گیرد. بناً در صورت داشتن بدیل شبکه‌های جهانی، و جایگزین شبکه‌های محلی این نگرانی را می‌شود بر طرف کرد، اما در فقدان شبک‌های اجتماعی محلی، قطع مسدود سازی شبکه‌های انترنتی چالش‌های زیادی را به کشورها به بار خواهد آورد.

اعتیاد به شبکه های اجتماعی از دیگر اضرار شبکه‌های اجتماعی است. ابتدایی ترین مشکل در این زمینه وابستگی مردم مشخصا قشر جوانان به شبکه‌های انترنتی است که استفاده بی رویه از آن روند روبه رشد را از جوانان می‌گیرد و در بیشتر اوقات مشکلات جسمی و روحی را به همراه دارد. از طرف دیگر در نزد افراد استفاده کننده، کم تحرکی را به بار می‌آورد.

در نتیجه باید گفت که انترنت در بیشتر امور با آنکه خیلی موثر و مفید است، اما در بعضی از کشور های کمتر توسعه یافته مثل افغانستان مشکلاتی را نیز به همراه دارد. چون جنگ چهار دهه در این کشور در کنار آن که همه زیر ساخت‌ها را ویران کرد و کشور را از قافله ترقی و توسعه دور نگهداشت و نگذاشت فرایند تکامل را طی کند، بالا علم فرهنگ و روان انسان‌ها اثرات جبران نا پذیر را گذاشت. از این رو فرهنگ استفاده از انترنت و ابزارهای های انترنتی در این کشور متاثر از کم آگاهی و کم سوادی جامعه است.

با بیشتر شدن خدمات انترنتی در یک دهه گذشته در افغانستان، افراد زیادی بی آنکه از فرهنگ استفادهٔ آن معلومات داشته باشند، از شبکه های اجتماعی از جمله فیسبوک استفاده می کنند چون دسترسی به این شبکه ها بدون قیدوشرط و آزاد گذاشته شده و این سبب شده تا افراد به نام های مختلف از فیسبوک استفاده کنند.

طیف وسیعی از این اشخاص خواسته و ناخواسته به شخصیت افراد، ادارات، نهادها می تازند و هتک حرمت می کنند که به این شکل به آنان و شخصیت شان لطمه وارد کرده، از آنها به بدی یاد می کنند.

در سوی دیگر کشمکش های قومی، زبانی، لسانی و مذهبی چیزی دیگری است که شماری از استفاده کننده گان رسانه‌های اجتماعی به ویژه فیسبوک به آن از اسم‌های مستعار و یا حقیقی دامن می‌زنند. استفاده از عکس و نام افراد دیگر، چیزی دیگری است که در شبکه های اجتماعی بسیار عادی شده و می‌توان از آدرس دیگران به هر شخص و نهاد توهین کرد. با این حال آنچه تا حال گفته شد مشت نمونه خروار از محاسن و معایب انترنت و شبکه انترنتی بود. مزیت انترنت می‌تواند بیشتر از این‌ها باشد و همینطور معایب آن، اما آنچه در افغانستان کنونی که پس از چهل سال تجربه جنگ و ویرانی اندکی قد راست کرده مهم است که استفاده قاعده مند در چهارچوب یک مکانیزم تعریف شده از شبکه‌های اجتماعی صورت گیرد و جلوی بی‌بند وباری و نفرت پراکنی از این طریق باید گرفته شود. همینطود استفاده بی رویه و غیر نظامند می‌تواند مشکلات اجتماعی را به بار آورد که نقش ویرانگر را به دنبال خواهد داشت.

به هر حال، در کنار استفاده از فیسبوک و سایر شبکه های اجتماعی، دانستن فرهنگ و اخلاق استفاده از آن را نباید فراموش کرد.

امیرالمؤمنینی را که می‌شناسم!

بخش دوم / مهاجر فراهی / ترجمه: محمد صادق طارق

همانطور که قبلاً گفته شد، ایجاد هماهنگی در میان تمام نیرو و جنگجویان غیر منظم از بولدک تا حیرتان، از فراه تا واخان، از تورخم تا شیرخان، از هلمند تا نورستان، از شرق تا غرب و از جنوب تا شمال و منسجم نمودن آنان، همچنین تغییر و تبدیل مسئولین و تطبیق دستورات کار خارق‌العاده و فراتر از تصور انسان بود.

در حالی‌که امیرالمؤمنین حفظه‌الله شخصاً تحت تعقیب شدید اشغالگران بود، دید و بازدید شان با مقامات و مسئولین بسیار محدود بود. هر لحظه انتظار کشف از سوی دشمن و شبیخون زدن بر ایشان قوی‌تر می‌شد. یک باری امیرالمومنین در جلسه‌ای به ما فرمودند: شما باید با مردم رویه نیک داشته باشید، شب‌هنگام به خانه‌های شان داخل نشوید و در مقابل دیدگان فرزندان و زنان شان آنان را اذیت نکنید.

امیرالمومنین در ادامه‌ی سخنان خود افزود: ناراحت کننده‌ترین حادثه در دوران قرنطینه برای من این بود که با خود فرض می‌کردم اگر دشمن همین الان حمله نماید و ما درگیر نبرد بین خانه بشویم و من در مقابل دیدگان فرزندانم شهید شوم. این تصویر برای همیشه در ذهن شان ثبت خواهد شد. وقتی سلسله فتوحات در سراسر کشور شروع شد تمام مردم نگران بودند که شاید در کشور موج جدید آنارشیسم و هرج‌ومرج به وجود بیاید، دارایی‌های دولتی مورد چپاول قرار گرفته و سفارتخانه‌های خارجی به غارت برده شوند، مارکت‌های تجارتی و معاملاتی توسط باندهای فرصت‌طلب چور شده و بانک‌ها غارت شوند.

تمام حس خرسندی من در برابر فتوحات تحت شعاع بیم اینکه خدای ناخواسته با وارد شدن مجاهدین به شهرها چه وضعیت وخیمی پیش خواهد آمد، ناپدید شده بود.

در سه دهه‌ی گذشته ما شاهد تغییر چند نظام متعدد بوده‌ایم که در همه آنها اختلالات، شوک‌ها، دزدی‌ها، چور و چپاول و رسوایی‌های فراوانی به وجود آمده بودند. اما الحمدلله این مرتبه با هیچ واقعه‌ی نامناسب و مشکل جدی روبرو نشدیم. روند انتقال قدرت این مرتبه بسیار موفق‌آمیز بود.

همچنین اگر به روند عفو عمومی مفصلاً وارد شویم، متوجه می‌شویم که چه اندازه مهم بوده و چه زیبا اجرا شد! آیا تا به‌حال در این مورد با خود تصور کرده‌اید چگونه از گروهی که در بیست سال گذشته میلیون‌ها جوان و اعضای آن به‌شکل وحشیانه شهید، زخمی، اسیر و بی‌خانمان شده‌اند اما امروز فاتحانه و پیروزمندانه وارد شهرها می‌شوند، دشمنان‌شان که شانه به شانه‌ی متجاوزان آمریکایی راه می‌رفتند و برای کشتن افراد این گروه در کنار هم برنامه‌ریزی می‌کردند انتظار مهربانی و دلسوزی می‌کنند؟. اما به جای اینکه ستم‌دیدگان دیروز و فاتحان امروز از دشمنان خود انتقام بگیرند؛ آنان را قتل عام نموده و جوی خون جاری سازند، با فرمان عفو عمومی رهبری خود تمام قاتلان و جنایت‌کاران را عفو نمودند.

به نظرتان این سخن که کسی به سوی قاتل برادرش با چشم‌های خیره نگاه می‌کند، اسلحه در دست دارد، گلوله‌ای آن آماده‌ی شلیک است و هیچ مانعی برای انتقام وجود ندارد اما باز هم فقط به خاطر دستور امیر خود روی برمی گرداند، ساده است؟

آیا نمونه دیگری از همچین بخشش در جهان معاصر وجود دارد که ارائه شود؟

اگر دقت به خرج دهیم این موضوع فقط تغییر و تبدیل چند نفر محدود نبود، بلکه نظام و سیستم یک کشور از ریشه تغییر پیدا کرد؛ ارتش، پولیس و قطعات جدید به وجود آمدند و جای ارتش و چهارچوب حکومت قدیم را گرفتند. خواننده ارجمند! تغییر این نظام و سیستم بزرگ بدون هیچ نوع جنایت، قتل، دزدی و اغتشاش نشان می‌دهد که تمام این موارد برکت یک مدیریت سالم، رهبریت نیرومند و قیادت دلسوز بوده که همه این امور را به خوبی کنترل و عملی می‌نمود. **ادامه دارد**...

د ثور دوو ورځو کرغېړنې پېښې

خالد مشعل

دویمه نړیواله جګړه پیل وه، د جګړې دواړو خواوو له افغانستانه غوښتل چې د دوی له مبارزې او کړنو څخه ملاتړ وکړي، اما د وخت پاچاد ناپېلیتوب پربکړه وکړه او د یوه لوري په پلویتوب هم و نه درېده، د خپل هېواد بې طرفي یې دتېر په څېر بیا وساتله؛ ځکه جګړه پردې وه او په لومړۍ نړیواله جګړه کې امیر حبیب الله خان هم ناپېلتوب غوره کړی و • چې دویمه نړیواله جګړه پای ته ورسېده، نړۍ په دوو قطبونو ووېشل شوه، چې د یوه مشرۍ اتحاد جماهیر شوروي کوله او د بل قیادت امریکا پر مخ بیو، د دواړو قطبونو (کمونیزم او امپرالیزم) تر منځ سیالي او رقابت پیل شو.

د ګران هېواد واکمنانو له دواړو سره توازن ساته او د سیاست په اصطلاح له دواړو لوریو سره یې ډیپلوماتیکي اړیکې لرلې او هېواد یې د ناپېلیلو هېوادونو غورځنګ په لومړي کتار کې درولی و. د سرو شورویانو استخباراتو (K.G.B) زمونږ په هېواد کې غلامان او خیره خواره ګوداګیان پیدا کړل، د امپرالیزم دعوی دارانو هم یو شمېر پلویان لرل او د کمونیستانو په اصطلاح د نړیخور امپرالیزم لپاره یې کار کاو؛ خو د کې. جې. بي بریځي ډېر ژر منظم شول، ګوند یې جوړ او «د افغانستان خلق ډېموکراتیک» نوم یې پرې کېښود، چې رینبې یې تر ملکي او نظامي ادارو پورې وغځولې، د (کور، کالي، ډوډۍ) غوړ شعار یې پیل کړ.

د یاد ګوند مخکښان (د سر کسان) نور محمد تره کی، حفیظ الله امین، ببرک کارمل، میر اکبر خیبر، اناهیتا راتب زاد، بارق شفیعي، دستګیر پنجشیری، سلیمان لایق او نور وو. له دې پلیتو څخه نه ولسي کړی خلاصې وې او نه علمي، پوهنیزې او ښوونیزې حلقې، بلکې هر خای یې خپل پلویان پیداکړي او د افغانانو د ببلاړې کولو لپاره یې نرم او چرب دامونه غوړولي وو، نجسو کمونیستانو د افغانستان تر پارلمانه پورې پښې اوږدې کړې وې، ببرک کارمل او څو نور د پارلمان غړي وو او تل به یې په پارلمان کې د اسلام مقدس دین پورې خندل او ملنډې پرې وهلې. همدارز مطبوعات یې هم لرل او په خپله ورځپانه کې یې پر لېنن باندې درود ووایه او د (مرد نه زنه) فلم یې وښوده، چې د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم توهین یې په کې کړی و.

د ګران هېواد بربادونکو کمونیستانو د ژوند په هر ډګر کې د کمونیزم لپاره فعالیت کاو او د دې باطل فکر د خپراوې لپاره یې د ستالین لاره غوره کړې وه، نو هماغه و چې په (۱۷/۴/۱۹۷۸) یې خپل مخکښ او استاذ «میر اکبر خیبر» وواژه او د هغه د قتل تور یې په حکومت باندې پورې کړ، د نومورې د جنازې مراسم یې په پرتمین ډول ترسره او د قبر پر سر یې د ویناګانو پر مهال د غچ اخیستلو ژمنه وکړه. د شهید ولسشمر سردار محمد داود استخباراتو هغه ته د کمونستانو د ویناوو راپور ورکړ، هماغه و چې د حکومت له، خوا یو شمېر لویان یې ونیول شول. ولې ځینې لوړ پورې حزبي کمونیستان له بنده بهر پاتې وو، هغوی د ۱۳۵۷هـ ش د غوایي/ثور په اوومه پر سردار محمد داود خان باندې خونړی کودتا وکړه، د هغه د کورنۍ ۷۰ تنه یې شهیدان کړل او د دوی (کمونیستانو) له کودتا وروسته په ګران هېواد کې دزندیقانو له لوري قتل و قتال، ټولوژنې، ترورنه، مهاجرتونه او د مسلمانانو شیدول پیل شول، چې دا دی نن یې ۴۵م کال پوره شو، چې په دې ترخ کې دوه خله یرغلګرو (شوروي اتحاد او امریکا) پر ګران هېواد باندې ناروا یرغلونه وکړل او په لکونو افغانان د دې کودتا او یرغلونو په پایله کې په شهادت ورسېدل، سرو کمونستانو چې کودتا وکړه، ستر مرتد نور محمد تره کی یې د کابل په تخت کښاو، نومورې هم یو په بل پسې فرمانونه جاري کړل، چې ټول د اسلام له مبین دین سره ټکر و او د دوی د نظام مرتده څېره ترې څرګنده شوه.

مرتد او زندیق تره کي او ملګرو او رفیقانو یې د افغان مسلمان ملت خلاف وسلي او د تعذیب او شکنجې وسایلو ته لاس کړ او په ټولوژنو، تري تم کولو، بندي کولو او مهاجرولو یې هیڅ صرفه و نه کړه. نو مسلمان ولس هم د علماؤ په فتوی باندې له کودتا څخه درې ورځې وروسته جهاد پیل کړ، د جهاد سنګرونه ورځ تر بلې پراخېدل او ګرمېدل، له غرونو څخه کلیو ته، له کلیو ښارونو ، د ولسوالیو او ولایتونو تر مرکزونو پورې ورسېدل. که کمونیستانو په ولس باندې بمبارونه کول، نو مجاهدینو هم د مرتد رژیم پر مزدورانو زرونه یخول.

هوکې! شوریان منتظر و، چې په افغانستان د کمونستانو وار پار خطا شي او دوی بربنډه نظامي مداخله وکړي، نو لومړی یې له یوه کاله او څو میاشتو واکمني کولو وروسته ملګری نورمحمد تره کی، د هغه وفادار شاګرد (حفیظ الله امین) په واسطه په دېره نا اشنا طریقه ووژاه او هغه یې د افغانستان د تاج و تخت واکمن کړ، هغه په نویو شعارونو مصؤنیت،عدالت او ۰۰ سره د کمونیزم خدمت ته ملا وترلې؛ که تره کي د هرات ټولوژنه، د کونړ د کرهالي قتل عام او نورې په لسګونو تراژیدی ترسره کړې، نو امین هم صرفه ونه کړه، د ازاد ولس او خپلواک ملت له بمبارولو پرته یې د دولس زرو (۱۲۰۰۰)بندیانو لېست پر کورنیو چارو وزارت باندې راوځراو، چې هغوی یې پر شهادت رسولي وو. (د ۱۳۵۸ د لړم/عقرب دریمه)

د امین د واک شپې ورځې هم رالندې شوې او د ۱۳۵۸ هـ ش د مرغومي/جدي په شپږمه(۶) د اتحاد جماهیر شوروي یو لک او څلوېښت زره (۱۴۰۰۰۰)عسکرو پر افغانستان باندې راودانګل، امین یې د خپلې کورنۍ له دېرو غړیو سره له تېغه تېر کړ او د امپرالیزم په ګوداګیتوب یې ونوماو، هغوی (شوروایانو) ببرک کارمل د تاشکند له رادیو راوغږاو او بیا یې افغانستان ته له شوروي څخه راوړ ، ببرک هم شورویانو ته د خپل خدمت او غلامۍ ښه ثبوت ورکړ او تل به یې په خپلو خبرو او ویناوو کې د هغوی د دوستۍ لوري ته اشاره کوله.

شورویان هم د هېواد په لر او بر کې خواره واره شول، د افغان ملت په وژلو او شهیدولو یې لاس پورې کړ، چې د غوایي له کودتا ـــ د نجیب پراخېدا پورې مو د شهیدانو شمېر شپارس لکه (۱۶۰۰۰۰)ته ورسېد!! تر شوروي تاراکه وروسته د جهاد سنګرونه لا ګرم شول، ټول ملت د قطبي خوګانو خلاف راپورته شو؛ واړه زاړه، نارینه و ښځینه د غلیم پر وړاندې ودربدل، نو د کابل ګوداګي رژیم مشر «کارمل» هم د «جبهۀ ملی پدر وطن» په نوم جبهه جوړه او د ملي پخلاینې بابولالې یې پیل کړې؛ خو شوروي عسکرو هماغسې هوایي او زمکني بریدونه جاري ساتل، اما د کارمل د بابولالو او د هغه د بادارانو د سختو عملیاتو په مقابل کې د مجاهدینو او ټول ملت په دریځ کې کوم بدلون نه برېښېده، بلکې لا یې موقف پیاوړی کېده. (الحمدلله) •

د ببرک اوتو بوتو چې کار ور نه کړ، نو هغوی (شوروي اتحاد) هم د هغه پر ځای ډاکټر نجیب الله د کابل واکمن کړ، چې هغه هم خپل مدارېتوب پیل او د خلق ګوند یې په «وطن ګوند» واړاو او سور بیرغ یې په درې رنګه بیرغ بدل کړ، خو ویښ ملت یې په کړو وړو او فریباکو ویناوو و نه غولېده. د شوروایانو لاسپوڅي ډاکټر نجیب الله غولونکي ویناووې کولې، قطبي خرسانو هوایي بمبارونه او زمکني عملیات کول او همدارنګه ډاکټر نجیب د قومي ملېشو په تشکیلاتو لاس پورې کړ، څو شورویان او د ده ملحد رژیم وساتي؛ خو برعکس د مجاهدینو غوڅو او پربکنده ګوزارونو د شوروي عسکرو موړال بیخي تېټ کړ، نو د کریملین واکمنو د ملګرو ملتونو په منځګړیتوب د ژنیو ترون لاسلیک او له نهه کلن اشغاله وروسته یې خپل عسکر په ۱۳۶۸ د دلوې په (۲۶مه)کوزې سترګې، تېټ څټونه له افغانستانه ووېستل، اما لا تر اوسه یې بوټونه، خولې او جمپرونه د هېواد په غرونو کې پیدا کیږي. همداراز د دوی په خبنو کړیو بمونو اوس هم افغانان مرګ ژوبله ګوري. قطبي خوګان لاړل، خپل کمونیست پرکټي یې په افغانستان کې پرېښودل، نو نجیب هم یو خوا د روغې جوړې خبرې کولې، بل لور ته یې د کلم جمو ملېشې، د قهرمان جبار ملېشې، د کیان ملېشې او نورې ... د افغانانو د شهیدولو او ایل کولو لپاره سوق کولې، نومورې په یوه وخت کې دوه لوبې کولې. د ده د واک په وروستیو شپاوو ورځو کې د ملګرو ملتونو سرمنشي «بطراس بطراس غالي» خپل استازی «ېښن سیوان» افغانستان ته راولېږه، هغه یوه پینځه ماده یزه فارموله جوړه کړې وه، چې پر اساس به یې نجیب واک پرېښوده، ولې د کمونیست رژیم لوړ پوریو افرادو په جبل السراج کې له ځینو مجاهدنماوو او ګلم جم ملېشو سره ائیتلاف جوړ او د هېواد په ولایتونو کې د مجاهدینو فتوحات ګرندي شول؛ ولایتونه او ولسوالی ګاني فتح کېدلې. نجیب چې د (یا وطن یا کفن) شعار ورکاو، هغه مسکین د کابل هوایي ډګر په لوري هند ته د تېښتې په موخه روان شو، ولې د ګلم جمانو له خوا را ایسار او په منډه د ملګرو ملتونو په دفتر ننووت. نجیب واک عبدالرحیم هاتف ته پرېښود؛ خو د جبل السراج د ناولي ائیتلاف د ترون پر اساس د شمال ټلوالي افرادو او دوستمي ملېشې له شمالي طرفه په کابل ورننوتلې. همدارنګه مجاهدین هم د نورو ولایاتو له فتح کولوروسته د غوایي په اوومه کابل ته ننوتل او دېر ځایونه یې ونیول؛ خو د جبل السراج د ائیتلافي ځواکونو له لوري له کابله ووېستل شول، په پېښور کې د مجاهدینو مشرانو یو غیر متوازن حکومت جوړ او د دوو میاشتو لپاره یې حضرت صبغت الله مجددي د ارګ د دوو کوټو لومړنی جمهور رئیس کړ، چې ورپسې به استاذ رباني د څلورو میاشتو لپاره لنډمهالی ولسمشر وي.

د ثور په اتمه مجاهدین له کابله ووېستل شول او لومړی جمهور رئیس کابل ته راوستل شو، مرتدو اوزندیقو کمونستانوته عمومي بښنه پرې وکړل شوه، مزار شریف ته یې بوتلل شو دملت قاتل دوستم ته یې دسترجنرالي رتبه او دمجاهد کبیر لقب پرې ورکول شو • دیاد منحوس ائیتلاف له املې خپلمنځي جګړې پیل شوې، کابل لوټې لوټې شو، د پلازمېنې په هره ناحیه کې ځانته ځانته حکومتونه جوړ شول.

د ۱۳۵۷ هـ ش کال د غوایي له اوومي ووړسته جګړه خپلمنځي جنګ نه و، بلکې مجاهدینو د الله جل جلاله لپاره جهاد کاو او سره کمونستان د شیطان لپاره جنګېدل، د مارکس، لېنن، ستالین او ... د کمونیستي، مرتد او ملحد فکر په خاطر مردارېدل. اما د ۱۳۷۱ هـ ش د ثور له اتمې وروسته جنګ جګړه خپلمنځي شول، له ځینو ډلو پرته ټولې خواووې مسلماني وې او جهاد نه و، له عامو مسلمانانو پرته جګړه مارې ډلې د «القاتل والمقتول کلهما فی النار» په زمره کې راتللې، یوازې هغوی ترې مستثنی وو، چې کافران وو!! د غوایي له اوومي ووړسته چې څومره نادودې کمونستانو وکړې، هماغومره یا له هغه زیاتې د ۱۳۷۱ ش ه کال د غوایي له اتمې پس وشوې. نو په خپلمنځي جنګونو کې عزتمن افغانان بې عزته شول، قومي جګړې پیل شوې، چې په افغانستان کې یې مخینه نه درلوده، همداراز مذهبي جنګونه پیل شور، چې د هېواد په اوړه تاریخ کې یې چندان سابقه نه تر سترګو کېږي . د غوایي له اتمې ووړسته د کمونیست رژیم چارواکي ځینې له یوې جګړه مارې ډلې سره ودربدل او ځینې د بل لوري خواوشا راټول شول، ټولو خپل امنیت او مصؤنیت ترلاسه کړ، لنډه دا چې زاړه کمونیستان کومو خواوو ته ورغلي وو، ټولو هوسا او ارام ژوند درلود، یوازې مظلوم ملت د جګړه مارو ترمنځ کبابېده!!

د ۱۳۷۱ هـ ش کال د غوایي له اتمې ووړسته، د مسلمان مجاهد ملت تذلیل، توهین او تحقیر وشو، نیستي راغله، پاټکسالاري پیل شوه، د مرې نڅا ننداري ته وښودل شوه، د پاک لمنو خوېندو بې پتي وشوه، سینې ترې غوڅې شوې، د فرعون مړه سُنت راژوندي شول هغه دا چې د ژوندیو انسانانو په سرونو مېخونه ټکوهل شول، انسانان په انساني سپیو ودارل شول، د ماشوم د زېرېدو پر مهال د پتمنو خوېندو د زېږون ننداري وشوې، پر سپینږیرو هېوادوالو جنسي تېري وشول شول او په هلکانو باندې نکاحګاني وترل شوې!!! د جګړه مارانو او پاټکسالارانو ترمنځ داخلي او بهرني وګړي د پخلاینې او جوړجاړي لپاره وګرځېدل راوګرځېدل؛ خو غیرمثمر به تمام شول، کومه پایله یې نه ورکوله. همداشان ښکېلو لوریو نوي نوي ائیتلافونه هم سره جوړ او مات کړل، ولې د قتل او قتال مخه ډب نه شوه. هغه مهال پر افغانو د خوښۍ لمر راوخوت، چې د اروښاد ملا محمد عمر مجاهد ـ رحمه الله ـ تر قیادت لاندې د طالبانو غورځنګ د ظلم او ناروا خلاف تبارز او ظهور وکړ، پاټکونه یې له منځه یووړل او پاټکسالارن او لوطیان یې وځغلول، څو د ۱۳۷۵ هـ ش د تلې/میزان په شپږمه په کابل ورننوتل، نو پخوانې رقیب جګړه ماران سره یو خای شول پنجشېر، کولاب او اېران ته وتښتېدل. طالبانو په کابل کې اسلامی امارت قائم او حدود یې نافذ کړل، نو بناءً د غوایي اوومه او اتمه ډېر مماثلتونه سره لري او په ځینو مواردو کې لږ لږ تو پیرونه هم سره لري. خو د ملت لپاره دواړه بدمرغې او ناوړه پایلې لري. د غوایي له اوومي ووړسته د نړۍ محکومو له مونږه درس زده کړ؛ دخپلواکۍ بیرغونه هسک کړل اودغلامۍ ځنځېرونه وشلول ؛ خو له اتمې ووړسته د کفارو د پېغورونو شولو!!!

حکایت

حضرت بیدل (رح)

مردم‌آزاری را حکایت کنند که سنگی بر سر صالحی زد. درویش را مجال انتقام نبود. سنگ را نگاه همی‌داشت تا زمانی که ملک را بر آن لشکری خشم آمد و در چاه کرد. درویش اندر آمد و سنگ در سرش کوفت. گفتا: تو کیستی و مرا این سنگ چرا زدی؟ گفت: من فلانم و این همان سنگ است که در فلان تاریخ بر سر من زدی. گفت: چندین روزگار کجا بودی؟ گفت: از جاهت اندیشه همی‌کردم، اکنون که در چاهت دیدم فرصت غنیمت دانستم.

ناسزایی را که بینی بخت یار
عاقلان تسلیم کردند اختیار
چون نداری ناخن درنده تیز
با ددان آن به که کم گیری ستیز
هر که با پولاد بازو پنجه کرد
ساعد سیمین خود را رنجه کرد
باش تا دستش ببندد روزگار
پس به کام دوستان مغزش بر آر

***

یکی را از ملوک مرضی هایل بود که اعادت ذکر آن ناکردن اولی. طایفهٔ حکمای یونان متفق شدند که مر این درد را دوایی نیست مگر زهره آدمی به چندین صفت موصوف. بفرمود طلب کردن. دهقان پسری یافتند بر آن صورت که حکیمان گفته بودند، پدرش را و مادرش را بخواند و به نعمت بیکران خشنود گردانیدند و قاضی فتوی داد که خون یکی از رعیت ریختن سلامت پادشه را روا باشد. جلاد قصد کرد، پسر سر سوی آسمان بر آورد و تبسم کرد. ملک پرسیدش که در این حالت چه جای خندیدن است؟ گفت: ناز فرزندان بر پدران و مادران باشد و دعوی پیش قاضی برند و داد از پادشه خواهند. اکنون پدر و مادر به علّت حطام دنیا مرا به خون در سپردند و قاضی به کشتن فتوی داد و سلطان مصالح خویش اندر هلاک من همی‌بینند، به جز خدای عزّوجل پناهی نمی‌بینم. پیش که بر آورم ز دستت فریاد
هم پیش تو از دست تو گر خواهم داد

سلطان را دل از این سخن به هم بر آمد و آب در دیده بگردانید و گفت هلاک من اولی تر است از خون بی گناهی ریختن. سر و چشمش ببوسید و در کنار گرفت و نعمت بی اندازه بخشید و آزاد کرد و گویند هم در آن هفته شفا یافت.

همچنان در فکر آن بیتم که گفت
پیلبانی بر لب دریای نیل
زیر پایت گر بدانی حال مور
همچو حال توست زیر پای پیل

د اسلام نه مخکې زمانو کې د ښځو حقونو ته لنډه کتنه

پوهنیار سیدرفیق حکیمی

سریزه

ښځه د بل هر انسان په څیر په ټولنه کې د ژوند کولو حق لري او په ټولو چارو کې مهم او اړین رول لوبوي¬. ښځې په ټولنه کې ځینې حقوق او دندې ¬لري. د اسلام مبارک دین او پخوانیو ادیانو د ښځو د درناوي او د هغوي د حقونو د ثبتولو په برخه کې پوره روښانه بحث کړې دي. د کمیت له پلوه ښځه په اټکلیز ډول د ټولنې د نمایي څخه زیاته برخه جوړوي. دغه ټولنیز موجود د ټولنې د چارو په سمون او د ژوند په ټولو برخو کې خورا زیات او د ارزښت ور رول لوبوي. ښځه د ژوند په بیلابیلو پراوونو کې د ژوند سرچینه، ماندینه، خور او مور ده. ښځه په ټولنه کې د مشخصو حقونو او وجیبو درلودونکې ده. دښځو حقونه په اسلام او بشري ټولنو کې واضح او روښانه دي سره له دي چې د اسلام مبین دین او نورو پخوانیو ادیانو د ښځې د تکریم او د دوي د حقونو په تسجیلولو بشپړه څرګندتیا لري، خو په عمل کې دغه حقونه د تاریخ په بیلابیلو دورو کې تر پښو لاندې شوي دي. بناءً بده به نه وي تر څو د تاریخ په بیلابیلو دورو کې د ښځو د حقونو په څرنګوالي رښا واچول شي. په ټولیزه توګه پرته له استثنایي مواردو څخه، ښځه د اسلام څخه مخکې ټولونو کې د هر راز ارزښت او اهمیت ور نه بلل کېده. ښځې د امواللو او اجناسو په څیر پیریدلي او پلورل کېدلې او د نارینه په لاس کې د یو آلي یا وسیلې په توګه ګڼل کېدلي، په دغو ټولونو کې ښځه د ګناه او بد مرغۍ او غذاب سمبول ګڼل ګیده، له همدې املې که به نوئ زیږیدلي ماشوم نجلۍ وه، ژوندي به ښخېدله. په دې لنډه لیکنه کې به له اسلام څخه مخکې تمدنونو کې د ښځو پر حقونو بحث وکړو.

۱- د یونان په ټولنه کې د ښځو حقوق: په داسې حال کې چې د یونان هیواد د کلتوري علومو له نظره په تیرو ملتونو کې یو له متمدنو او پرمختللو ټولنو څخه شمیرل کېده، خو د ښځو د حقونو په برخه کې، خورا ورسته پاته وو، ځکه چې تاریخ ددې شاهد دي چې په دغه زمانه کې، ښځه نه یوازې د کور په څلور دېوالونو کې بندي ساتل شوي وه، ، بلکې د جسمي پلوه هم د ربړوني او عذاب سره مخامخ وه، یعني د میراث څخه بې برخې وه او د نسل د تولید د یو وسیلې په توګه ګڼل کېده او په کور کې یې د یوه مزدو حیثیت درلود . په دې پرمختللې ټولنه کې ښځې د هېڅ ډول عزت او مقام حقداره نه وه، له ذلت او خواري پرته یې بل څه نه درلودل او ټول لوړ مقام، عزت او کرامت د نارینه په لاس کې وو او بس.

۲- د روم په ټولنه کې: په رومي ټولنه کې نارینه په کورنۍ کې مطلق العنان او د قید او شرط څخه پرته پاچاهان ګڼل کېدل. نارینه په رومي ټولنه کې مذهبي رییس، سیاسي حاکم او د کورنۍ د ټولو شئونو متصرف شمیرل کېدل او ټول حقونه هغوي ته منسوبیدل، نارینه د هر څه څښتن وو او د ژوند په ټولو چارو کې یې بشپړ واک درلود، حال دا چې ښځې د هیڅ شي څښتنې نه وې. لکه څنګه چې تاریخ پوهانو څرګنده کړې ده، په روم کې به چې ښځې په یوې کورنۍ پورې تړاو ومونده، په بشپړه توګه به د هغې کورنۍ ملکیت ګڼل کېده، وروسته له واده څخه به د نومورې ښځې د خپلې پلرنۍ کورنۍ سره د خپلوۍ ټولې اړیکې پرې کېدلې او د مېړه شخصي مال به ګڼل کېدله. مېړه د خپلې ښځې او لونو د ژوند په ټولو برخو باندې حاکم وو، مېړه قانوناً حق درلود چې خپله ښځه د هر ډول جرم په ارتکاب محاکمه کړي او هر ډول سزا یې چې لازمه ګڼله پرې تطبیق کاندي. مېړه آن کولای شو خپله ښځه اعدام کړي او ویې وژني. که چېرې به د ښځې مېړه مړ کېده، هغه به د خپل مشر زوي، لېوره او یا هم د مېړه تر اداري لاندې راتلله.

۳- د یهودو په زمانه کې: یهودیان په دې آند وو چې نجلۍ د خدمتګاري حیثیت لري او پلار یې د هغو د پلورلو حق درلود. ښځې ته میراث نه ورکول کېده، خو د ورور د نه شتون په صورت کې یې کولای شول د دغه حق څخه برخمنه شي. پلار کولای شول د خپل ژوندانه پر مهال لور ته یو څه وروښیي. همدا راز کله به چې نجلۍ د ورور د نه شتون په صورت کې د میراث حقداره شوه، بیایې نو د واده حق نه درلود او که چېرې به یې واده وکړ، د میراث د حق څخه بې برخه کېدله. په همدې توګه که چېرې به نجلۍ د ورور د شتون په صورت کې له میراث څخه بې برخې شوه، د دې نفقه پر ورور باندې او مهر یې د دې پر مېړه تثبیتیده.

۴- په نصرانی (مسیحي) ټولنه کې د ښځو حقونه: مسیحي ټولنې د نورو په پرتله د ښځو د حقونو په اړه د خورا مبالغې څخه کار اخیست او د ښځو په اړه د مسیحیانو کړنې په یولړ عقیدو باندې ولاړې وې. دوي ښځه د ګناهونو او فسادونو سرچینه ګڼله او په دې آند وو چې ښځه د نارینه لپاره د جهنم د ورونو څخه یو ور دي. یو ستر مسیحي پوه، کراي سوستم په دې هکله داسې ویلي دي:(ښځه هغه شر دي چې دهغې څخه دتښتې لارنشته، هغه د فطرت وسواس، دخوښې وړ آفت، د کورنې لپاره خطر، دعاشقانو قاتله، مصیبت او سوځوونکې او لمبې وهونکې اور دي).

په پنځمه میلادي پیړي کې د پوهانو ستره غونډه جوړه شوه او دې پوښتنې په هکله یې بحث کولو چې (آیا ښځه یوازې یو مجرد او بې روحه جسم دي او یا داچې د روح خاونده ده؟) د دې غونډې په پای کې دي فیصلې ته سره ورسیدل چې ښځه د هغه ناجیه (ژغورونکې) روح څخه چې دا باید د جهنم څخه وژغوري، تشه (بې برخې) ده. په (۵۸۶) زیږدیزکال کې فرانسویانو یو کنفرانس دایر کړ تر څو چې دا خبره جوته کړي چې ښځه انسان ده او که نه ده انسان؟ وروسته له ډیر جر او بحث څخه دي پایلې ته سره ورسیدل چې ښځه انسان ده او د نارینه د چوپړ لپاره پیدا شوې ده.

دوي په دي اند وو چې د ښځو سره د جنسي اړیکو درلودل نجس او پلید عمل دي او هغو څخه باید خان وساتل شي که څه هم د نکاح او مشروع ترون له لارې دا عمل سرته ورسیږي او انزوا د واده څخه ښه ده. دغه ډول رهباني آند او تفکر د خلکو په روح باندې داسې اغېزه وکړه چې نکاح یې پلیده او نجسه ګڼله او د ښځې مقام او حیثت د ژوند په ټولو اړخونو کې خورا تیټ وو.

۵- داسلام نه مخکې په عربي ټولنه کې د ښځو حقوق: د اسلام نه مخکې په عربي ټولنه کې ښځې د ژوند په ټولو برخو کې له خپلو حقونو بې برخې وې، د نجلۍ د زېږېدو پر مهال به خلک خپه کېدل او بد شګون به بلل کېده. په دې ټولنه کې د نجلۍ زېږېدل د کورنۍ لپاره د بدمرغۍ او لوي ناورین په توګه تعبیر شوي وو، د ښځو په وړاندې د دوي کرکه او غصه دومره وه چې خپلې لونې به یې ژوندۍ ښخولې. ښځې له میراث څخه بې برخې وې، خکه چې دوي عقیده لرله چې ښځې ته میراث ورکول پردیو (د ښځې خاوند او خپلوانو) ته د جایداد سپارل دي. په همدې توګه دوي دومره حریص وو چې غوښتل یې تر څو نجلي د خپل پلار په کور کې پاتې او واده نه شي. ښځه د هیڅ ډول تاکلو حقونو څخه برخمنه نه وه چې میړه باید دهغوي په ورکړه مکلف واي. د طلاق په ورکړه کې هم محدود عدد شتون نه درلود، نه هم د ښځو سره د نکاح کولو په شمیره کې حدود موجود وو او نه هم ښځې ته د راتلونکې میړه د تاکلو حق ورکړ شوي وو.

۶- داسلام نه مخکې د فارس په ټولنه کې: په دې ټولنه کې ښځه په بشپړه توګه د سړي تر حاکمیت او کنټرول لاندې وه او نارینه حق درلود تر څو ښځه بې له پوښتې څواب او پرته له کومې محاکمې څخه او بې له دي چې په موضوع څېړنه تر سره شي، د لزوم په صورت کې په مرګ باندې محکومه کړي. ښځه د کور د مال په شان د سړي په قبضه کې وه. د حیض په وخت کې به ښځې له کوره ایستل کېدې او ښځې به دا وخت له کلي او ښاره بهر په یوه وړه خیمه کې تېراوه، چا به د حایضې ښځې سره معاشره نه درلود، آن هغه چا به چې نوموړې ښځې ته خواړه ورل خپله پوزه به یې په یوه ټوکر کلکه تړله تر څو د هغې د نجاست او پلیدۍ څخه لرې وي او دهغې هوا تنفس څخه به یې په کلکه دډه کوله چې د حائضې سره یې تماس درلود. د فارس په ټولنه کې د نسبي محرماتو، لکه د ترور، مورنۍ ترور، لور، خور او ورته ښځو سره نکاح مجازه ګڼل کېده.

۷- داسلام نه وړاندې په آریایي ټولنه کې د ښځو حقوق: په اوومه میلادي پیړۍ کې د خراسان ښځې نسبتاً مهمې او د اهمیت وړ ګڼل کېدلې، د هغه وخت د قوانینو له مخې ښځو د واکمنۍ او په شاهي مقاموکې هم د کار کولو حق درلود. د هغو مقرراتو له مخې چې په دې زمانه کې رامنځ ته شوي وو، د دودیز آریایي طبقې له مخې، چېرې چې خلک په څلورو طبقو ویشل شوي وو، د لوړې طبقې سره د ټیټې طبقې واده کول منع وو، او د نړۍ خپلوانو سره واده کول هم منع وو، او کله به چې ښځې یو څل واده وکړ، دویم خل یې نه شو کولای چې میړه وکړي.

ماخذونه:

۱- ایوبي، کوهدامني(۱۳۹۱). حقوق بشر، جندر واطفال، کابل. انتشارات قومندانې اکادمې پولیس.
۲- حضرتی، غلام دستګیر. ۱۳۸۴، آموزش حقوق اطفال.
۳- رسولی، محمد اشرف، اسلام و حقوق بشر و پس منظر حقوق بشر در افغانستان

فساد او مفسد!

مولوي نورالحق مظهري

په دې خاطر چې فساد دهر بد شی دی او په هر اړخیز ډول شرعا غندل سوی دی غواړو په اړه یې ځینې معلومات ستاسو سره شریک کړو تر څو هر مسلمان ځان ورڅخه وساتي او زموږ ټولنه د هر ډول فساد څخه خوندي پاته شي.

د فساد تعریف: یو شی چې د خپل اعتدال او سلامتیا څخه ووځي هغه ته فساد وایي او فساد په تمامه معنی او د ټولو اقسامو سره شرعا محکوم او مذموم دی.

په قرآن کې د فساد ذکر شوي ځینې کلي اقسام:

۲ - په مځکه کې ګناهونه کول فساد بلل کېږي لکه الله تعالی چې فرمایي: وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا.[الأعراف: ۵۶]

ژباړه: په مځکه کې د هغې د اصلاح وروسته فساد مه کوئ. یعني وروسته تر دې چې د انبیاؤ او صالحو انسانانو په زیار الله تعالی د مځکې اهل اصلاح کړي او دوی خپل عبادتونه کوي تاسي یې په ګناهونو باندې بیرته مه فاسدوئ.

۲ - د مفسد او ګمراه انسان خبره منل او د هغه سره ملګرتیا کول فساد دی؛ الله تعال فرمایي: وَلَا تُطِيعُوا أَمْرَ الْمُسْرِفِينَ * الذِينَ يُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ.[الشعراء:۱۵۱ ـ ۱۵۲].

ژباړه: د اسراف کوونکو د خبري پلوي مکوئ هغه کسان چې په مځکه کې فساد کوي او اصلاح نه راوړي. یعني د هغو کسانو خبره مه منئ چې دوی په مځکه کې د ګناهونو او ناروا کارونو په کولو سره فساد کوي ځکه که تاسي ددوی خبره ومنی تاسي به هم ددوی غوندي مفسدین جوړ شی.

علماؤ لیکلي دي: ددې آیت څخه داسي معلومیږي چې د مفسد انسان سره دي سړی ملګرتیا هم نه کوي ځکه چې کله ده د خبري د منلو څخه مسلمان منع سو دده سره د ملګرتیا او همکاری څخه خو بیخي منع دی.

سفیان ثوري رحمه الله فرمایي: د انسان په فساد او اصلاح کې تر ملګري بل ډېر مهم شی نسته.[الانابة لابن بطة] یعني د انسان په فساد او اصلاح کې ملګری ډېر رول لري ځکه نو هر څوک باید کوښښ وکړي چې په دنیا کې د نیکو او ښو خلکو ملګرتیا غوره کړي. ممشاد دینوري وایي: د صالحو انسانانو ملګرتیا د انسان په زړه کې د اصلاح تأثیر کوي او د فاسدو انسانانو ملګرتیا د انسان په زړه د فساد تأثیر کوي.[صفة الصفوة ۶۵۹]

۳ - منافقت ستر فساد دی؛ الله تعالی د منافقینو په اړه فرمایي: أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُونَ وَلَكِنْ لَا يَشْعُرُونَ. [البقرة:۱۱۲] ژباړه: خبر اوسئ چې دوی مفسدین دي خو دوی شعور نلري.

منافقینو ددې تر څنګ چې خپل کفر یې پټوی نور خلک یې د ایمان راوړلو او حق منلو څخه راکړځول، د حقائقو په وړاندې یې د خلکو فکرونه خرابول، د انسانانو تر مینځ یې د دښمنیو او کرکو خپرولو په ذریعه ټولنه فاسدول، د مسلمانانو په مینځ کې یې دول دول فتنې راپورته کولې، د کفارو سره یې دوستي کول او د مسلمانانو رازونه یې هغوی ته وړل، کفار یې د مسلمانانو پر ضد راپاروول او کوښښ یې کوی چې د ګنډو لارو څخه مسلمانانو ته زیان ورسوي.

د تعجب وړ خبره خو لا دا ده چې منافقینو ددغه ټولو فسادونو سره سره ځانونه پر حق بلل او خپل کار ته یې اصلاح ویل.

نو هر څوک چې د منافقینو پورته کړه وړه ترسره کوي مورِ ویلای سو چې هغه انسان مفسد دی او په مځکه کې فساد خپروي. **دوام لري...**

یو تن له سولې هندارو کم مصرفه...

د څلورو طریقو په واسطه له سولې هندارې څخه شپه او ورځ د برېښنا د تولید په تجربه کې بریالي شي.نومورې وایي، او که بازار ته وړاندې شي، نو له زرو افغانیو څخه نیولې تر درېیو زرو افغانیو پورې به لګښت ولري.«ما د شمسي هندارې لپاره داسې مودل جوړ کړ چې د شپې او ورځې برېښنا برابروي، هغه په څلور طریقو ترسره کېږي. لومړي د ګاز په وسیله، دویم د کېمیاوي توکو په وسیله، درېیم د ګروپانو د رنا په وسیله او څلورم هم د لېزرانو په وسیله برېښنا تولیدولي شو.»پر همدې مهال د کندهار د تخنیکي او مسلکي زده کړو امر کریم الله حمیم وایي، د کندهار د تخنیکي او مسلکي زده کړو په مرکز کې کې نور خوانان هم د دوي په ملاتړ د تخنیک په برخه کې د نوښتونو په هڅه کې دي.«د څوانانو د ملاتړ لپاره مورږ سل فیصده چمتو یو، زمورږ ټولې تخنیکي برنامې د خوانانو لپاره دي.»تر دې وړاندې هم کټ شمېر هېوادوالو په بېلابېلو برخو کې نوښتونه کړي، خو هغوي بیا ادعا کوي چې اوس یې هم لاسنیوي نه دي شوي.دوي وایي، که دولت یې بشپړ لاسنیوي وکړي، په دېرو برخو کې به داسې نوښتونه وکړي چې د هېواد لپاره به دېر ګټور وي.

حکومت له کورنیو سرچینو د برېښنا د...

د سروې او نقشې چارې بشپړې شوې دي.قاري مطیع الله خرکندوي؛ د سروبي د دوهیم بند ټول لګښت ۳۰۰ میلیون دالره اټکل شوي دي. د برېښنا د تولید وړتیا ۱۸۰ میګاواته ده. مونږ له کورنیو سرچینو څخه د انرژۍ د تولید لپاره پنځه کلن پلان لرو، چې په کې د باغ دره د اوبو بند، د سروبي دوهیم بند او د نغلو لمریزې برېښنا پروژې لومړیتوب لري.د خصوصي سکتور غړي هم وایي، چې د انرژۍ له تولید پرته په هېواد کې اقتصادي وده ناشونې ده او د اوبو او برېښنا وزارت باید په هېواد کې د برېښنا د تولید د پراختیا لپاره هڅې کړندۍ کړي.د سوداګرۍ او صنایعو خونې غړي خانجان الکوزي وایي: انرژي او برېښنا د صنعت، تولید، سوداګرۍ، کرنې مهمه سټنه ده او اوس هم زمورږ په عادي ژوند کې له انرژۍ پرته د هېواد آبادي رامنځته کېدي نه شي.د دې ترڅنګ د اقتصادي چارو کارپوهان هم په دې باور دي، چې په هېواد کې د برېښنا د تولیدي بندونو له جوړېدو سره به افغانستان د انرژۍ په تولید کې پر خان بسیا او له ګاونډ هېوادونو د برېښنا د پېرلو له ارتیا خلاص شي.

مشکلات پروژه مکروریان پنجم...

در زمان حکومت قبلی با سرپرست این وزارت در میان گذاشتند و خواهان حل آن شدند.سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن، گفت که مسوولان در این وزارت تلاش می‌کنند تا راه‌های بیرون رفت از مشکلات و چالش‌های موجود پیدا نمایند.

ننګرهار کې د سیکارام دودیزه مشاعره...

شریک کړل. د سیکارام مشاعره هېواد شموله ده.»په مشاعره کې ګڼ شمېر شاعرانو خپل شعرونه ولوستل، خو شاعر او لیکوال جعفر الماس او ارماني بیا د شعر په ژبه د سیکارام لوړه څوکه وستایله.«دا ګرد چاپېر غرونه کوي ورته سلام، دا لوړه څوکه د سیکارام»«که خداي د امن څادر ښور کړ، پچیراکام ته به غوزانو پسې څونه»په مشاعره کې د اسلامي امارت یو شمېر لوړ پوړو چارواکو هم ګډون کړي وو.د استخباراتو مشر ډاکتر بشیر د دا ډول مشاعرو جوړېدل وستایل او له شاعرانو یې وغوښتل چې د ټولنې ستونزو او ناخوالو ته دې په خپلو شعرونو کې څاي ورکړي او په هنري ژبه دې ولس ته وړاندې کړي.ډاکتر بشیر زیاته کړه:«په ټولنه کې د ستونزو او نورو کړاوونو د ختمولو لپاره د خلکو یووالي ډېر مهم دي او هغه څوک چې نه یې پېژني د ولس په منځ کې ورته ځاي مه ورکوئ، ځکه د امنیت په ټینګښت کې د خلکو همکاري مهمه ده.»د مشاعرې ګډونوال هم د دا ډول مشاعرو جوړېدل ستایي او زیاتوي چې د سیکارام په شان دودیزې مشاعرې کولای شي، ولسي خلک د تفریح ترڅنګ له خپلو کلتوري ارزښتونو خبر کړي.ابرار زیاته کړه:«د داشان مشاعرو جوړېدل ډېر مهم دي، ځکه اوس په ټول هېواد کې امن دي او لازمه ده چې باید دا ډول مشاعرې جوړې شي.»د سیکارام دویزه مشاعره په لومړي ځل په ۱۳۹۴کال کې د سپن غر د څوانانو ټولنې له خوا جوړه شوه چې له هغه راهیسې هر کال کې ترسره کېږي.سیکارام د سپین غره لوړه څوکه ده چې د ننګرهار په پچیراکام ولسوالی کې موقعیت لري، د دغې دودیزې مشاعرې نوم هم له همدغې لوړې څوکې اخیستل شوي دي.

ایتالیا کې ۲۰ کډوال...

له پیله بیا تر اوسه ۳۶زره او ۶۰۰کډوال دغه هېواد ته دننه شوي دي.دا په داسې حال کې ده چې تېر میلادي کال یوازې نهه زره کسان ایتالیا ته په تک بریالي شوي وو.

په خوست کې د کرېکټ او فوټبال...

د ډول پرفامنس کوي او څه ډول لوبېږي.»بل پلو د خوست په یو شمېر ولسوالیو او نورو سیمو کې په روژه کې د شپې پر مهال د بېلابېلو لوبو سیالۍ جوړې شوې وې چې ځینې یې پای ته ورسېدې او یو شمېر یې لا هم روانې دي.د خوست د فوټبال فدراسیون مشر ریبار هځانډ وایي، په روژه کې د مهدیخېلو په سیمه کې د لومړي ځل لپاره د فوټبال شپنې سیالۍ جوړې شوې وې چې د بارانونو له امله په اختر کې پای ته ورسېدې. نومورې زیاته کړه، په دغو سیالیو کې پر خوست سربېره د یو شمېر نورو ولایتونو لوبډلو هم ګډون کړي و:«د خوست اړوند مهدیخېلو سیمه کې د فوټبال سیالۍ لپاره هڅې کړندۍ کړي.د سوداګرۍ او صنایعو خونې غړي خانجان الکوزي وایي: انرژي او برېښنا د صنعت، تولید، سوداګرۍ، کرنې مهمه سټنه ده او اوس هم زمورږ په عادي ژوند کې له انرژۍ پرته د هېواد آبادي رامنځته کېدي نه شي.د دې ترڅنګ د اقتصادي چارو کارپوهان هم په دې باور دي، چې په هېواد کې د برېښنا د تولیدي بندونو له جوړېدو سره به افغانستان د انرژۍ په تولید کې پر خان بسیا او له ګاونډ هېوادونو د برېښنا د پېرلو له ارتیا خلاص شي.

ابتالیا کې ۲۰ کډوال...

له پیله بیا تر اوسه ۳۶زره او ۶۰۰کډوال دغه هېواد ته دننه شوي دي.دا په داسې حال کې ده چې تېر میلادي کال یوازې نهه زره کسان ایتالیا ته په تک بریالي شوي وو.

په خوست کې د کرېکټ او فوټبال...

د ډول پرفامنس کوي او څه ډول لوبېږي.»بل پلو د خوست په یو شمېر ولسوالیو او نورو سیمو کې په روژه کې د شپې پر مهال د بېلابېلو لوبو سیالۍ جوړې شوې وې چې ځینې یې پای ته ورسېدې او یو شمېر یې لا هم روانې دي.د خوست د فوټبال فدراسیون مشر ریبار هځانډ وایي، په روژه کې د مهدیخېلو په سیمه کې د لومړي ځل لپاره د فوټبال شپنې سیالۍ جوړې شوې وې چې د بارانونو له امله په اختر کې پای ته ورسېدې. نومورې زیاته کړه، په دغو سیالیو کې پر خوست سربېره د یو شمېر نورو ولایتونو لوبډلو هم ګډون کړي و:«د خوست اړوند مهدیخېلو سیمه کې د فوټبال سیالۍ د رمضان جام په نوم د شپې له خوا په خوست کې د لومړي ځل لپاره پېل شوې وې، فاینل لوبې لپاره یې د مهدیخېلو اتحاد او مهدیخېلو جوانان لوبډلې وتلې وې.»د یادونې وړ ده چې خوست د معتدلې هوا له کبله، د کال ډېرې وختونه د بېلا بېلو لوبو کوربه وي، خو په سړنۍ روژه کې د دغه ولایت په مرکز او ولسوالیو کې د فوټبال، والیبال، کرکټ او نورو لوبو ګڼې سیالۍ جوړې وې چې هرې یوې یې زرګونه لیدونکي لرل او د اختر په شپو ورځو کې یې خپلې پای ته ورسېدې، خو په ځینو سیمو کې یو شمېر نوې سیالۍ هم پیل شوې.

د ریاست الوزراء سیاسي معاونیت...

ډول خنډ پر وړاندې د ودرېدو وړتیا لري او باید حساب پرې وشي.په پای کې له ټولو هېوادوالو څخه غواړو چې د امنیتي وضعیت او ډاډمنې فضا په ساتلو کې له امنیتي ځواکونو سره خپله همکاري دوامداره وساتي.یو ځل بیا د امنیتي ادارو له مشرانو او ټولو سر سپارلو مجاهدینو څخه منه او له پاک رب څخه ورته د عظیم اجر دعا کوو.د سوکاله، سوله ییز او مرفه افغانستان په هیله مولوي عبدالکبیر د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال

نزدیک به ۹۰ میلیون افغانی کمک توزیع...

و بیش از ۶۶۸ هزار دالر و مواد لازمه افراد نیازمند به هدایت وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان به مردم کمک شده است.وي در این گفتگو خواستار توزیع کمک ها به گونه موثر و در بدل کار براي مردم در سطح شهر و ولسوالي هاي هرات گردید.رییس این اداره مي گوید با این اداره در حدود ۲۰ موسسه خارجي به گونه هاي جداگانه همکاري دارند.مفتي سعد مي افزاید که در سال گذشته بیش از ۶۰۰ هزار تن به گونه داوطلبي و اجباري به کشور برگشته اند.

ماشین آلات زراعتی تولید شده در افغانستان...

تریشر نیز می‌شود.

مسوولان این شرکت می‌گویند که در سومین دور از صادرات شان ۶۷ پایه ماشین آلات زراعتی که شامل تریشر گندم و جواری می‌شود را به کشور تاجیکستان صادر کرده‌اند.

تورملنگ، رییس شرکت تولید کننده ماشین آلات زراعتی می‌گوید: «فابریکه جاوید افغان توانست که ۱۶ پایه تریشر به کشور تاجیکستان صادر کند».

موصوف اظهار امیداواری نمود که ماشین آلات زراعتی تولید شده در این شرکت در هفته‌ی جاری به ازبیکستان نیز صادر خواهد شد.»

آقای ملنگ همچنان از امارت اسلامی خواستار همکاری برای توسعه‌ی تولیدات داخلی شده تا آنان بتوانند به کشورهای دیگر نیز صادرات داشته باشند.

به گفتهٔ مسوولان در این فابریکه، در این شرکت ده‌ها تن نیز سرگرم کار هستند.

شهروندان می‌خواهند برای سرمایه‌گذاری و همچنان توسعه تولیدات داخلی کشور تلاش بیشتر صورت گیرد تا افغانستان از وضعیت بد اقتصادی نجات یابد.

فراه کې ژوړې څاه ته د ۴ کلن ماشوم...

دین محمد «عبدالحق»، اطلاعاتو او فرهنګ رئیس مولوي عبدالحي «سباوون»، د عامې روغتیا روغتیایي او له هلمند ولایت څخه د ژغورنې تخنیکي ټیمونه، کنډو امنیتي او روغتیایي کسانو هم راغلي دي.د یاد ماشوم د ژغورنې پر مهال د فراه ولایت د امنیه قوماندانې قوماندان مولوي عبدالظاهر «خادم» له باختر خبري آژانس سره په خبرو کې وویل؛ چې سیمې ته روغتیایي او تخنیکي ټیمونه را رسیدلي او د ماشوم د ایستلو لپاره کړندۍ هڅې روانې دي، ده همدارنګه خوښې څرګنده کړه او وې ویل؛ چې ماشوم دم کړي جوړ او د ژوندي پاتې کیدو هیله یې شته.بل خوا د عامې روغتیا مرستیال رئیس مولوي دین محمد «عبدالحق» بیا وویل؛ چې څاه ته د ماشوم د لویدو له خبر سره سم د عامې روغتیا روغتیایي ټیم، آمبولانس او اکسیجن ډبې چمتو او د ایستلو لپاره یې لاس په کار دي.

کونړ ته د سیلانیانو ور تګ...

خوښي څرګندوي، چې ډاډمن امنیت هغه ډالۍ ده، چې سړ کال په زیاته اندازه سیلانیان دې ولایت ته را مات دي.له کندهار څخه راغلي سیلانیان ولي اغا او سید محمود خوښ دي او زیاتوي، ټول هېواد ښکلي دي؛ خو کونړ ته په راتګ سره یې خوښي لا پسې زیاته شوې ده؛ ځکه چې ښایسته طبیعي منظرې، غرونه او سیند هغه څه دي، چې دې ولایت ته یې ښکلا وربخښلې ده.ولي اغا وویل:» کونړ واقعا چې ښایسته ولایت دي، ځکه د افغانستان اسلامي امارت په راتګ سره په ټول هېواد کې امن ډېر شوي، مورږ هېڅ د ویرې احساس نه کوو. کونړ ته مې راتګ ډېر ارمان وو او هغه ارمان مې پوره شو چې دې ولایت ته د نورو ملګرو سره راغلم، دومره خلک دې ولایت ته را روان دي چې هېڅ حساب یې نشته. سوله او امنیت دې تل وي چې د هېواد هره سیمه په ډاډه زړه خلک وګوري.»سید محمود وایي:» د کونړ د کومو سیمو د لیدلو ارمان چې مې وو له ملګرو سره ورغلو عکسونه مو وویستل، ډېر زیات ښکلي ولایت دي، شیګل ته لاړو، اسمار مو ولید بیا دانګام ته لاړو ان تر بن شاهي سیمې پورې وګرځېدو، غرونه شنه او هر ناو ته په لیدلو هېڅ مړېدل نشته، طبیعي افشارونه دي، د اوبو شور او داسې نور ډېر څه شته چې کوم یو یې یاد کړم. کرځو به ترڅو له دې چکره خوند واخلو.»یو شمېر پانګه وال هم خوښي ښایي او زیاتوي چې کړې خواري یې ځاي نېولې ځکه د دې ولایت د مرکز ترڅنګ یې د سرکونو په سر د سیلانیانو لپاره کرځنده او مؤقت میلمستونونه او هوټلونه جوړ کړي، چې د لویې لارې د اوږده مزل مسافر پکې د خوړو ترڅنګ د سیاحت او استراحت لپاره دمه جوړه کړي.په دانګام ولسوالۍ کې مې د لویې لارې پر سر د سیلانیانو لپاره د جوړ شوي هوټل مسوول واحدالله وپوښت، چې وایي:» د سیلانیانو راتګ په ډېرېدو زمورږ کاروبار ډېر ښه شوي څو کسه راسره په کار هم مصروفه دي. خوشاله یوو چې هم د دغه لارې حلال رزق ګټو او ترڅنګ یې د سیلانیانو راتګ ته خوشاله یوو چې زما په شمول ډېر خلک په کار مصروفه دي او د دغه راتلونکو مسافرو په خدمت بوخت دي.»له بهرني هېواده راغلي مسافر فضل الاهي چې د ننګرهار اوسېدونکي دي وایي، په تمامه مانا وطن ښکلي دي او د امنیتي ځواکونو ښه چلند به هېڅکله هېر نه شي.هغه وویل:» زه به دومره ووایم، چې په ډېرو هېوادونو کرځېدلي یم. کوم خونډ چې د وطن په مینه کې دي په بل هېڅ شي کې نشته، امنیتي ځواکونه دومره ښه رویه کوي له مسافرو سره چې د خو پکې څه نشته. په زیاتو سیمو وکرځېدو د دوي تالاشۍ ته چې به ودرېدو ویل به یې خفه نه شئ ښه چکر ولرئ په ډاډه زړه وګرځئ او هرڅه مشکل چې مو لره مورږ ته خبر راکوئ. زه د دوي مینې ته حیران یم ژوندي دې وي.»باید وویل شي، چې د سیلانیانو لپاره د ټول هېواد ترڅنګ په کونړ کې امنیتي ارګانونه کامل چمتوالي لري او د سیاحت په برخه کې یو شمېر پانګه والو له لوري اړینې اسانتیاوې هم برابرې شوي دي.

به جای نشر گزارش‌های جعلی به ناکامی...

مدعی شده است که داعش تلاش می‌کند تا به سفارت‌خانه‌ها، مرکزهای تجاری و محل‌های مسابقات جهانی فوتبال حمله‌های را از افغانستان طرح‌ریزی کند که نشر و پخش این گزارش واکنش‌های را در سطح منطقه و افغانستان به همراه خودداشت، سخنگوی امارت اسلامی افغانستان، گزارش اخیر واشنگتن پست را جعلی خواند و در تویتی نگاشته که سند جعلی، رسانه‌یی شده به حواله وزارت دفاع امریکا، بخشی از پروپاگند دوامدار است و در بخش دیگر از توییت خود تاکید کرده که بعضی رسانه‌های غربی، گزارش‌های را پخش کردند که گویا یک سند محرم وزارت دفاع امریکا نشان می‌دهد که افغانستان به مرکز تروریزم مبدل شده که ما این ادعا را جداً رد می‌نماییم، مردم افغانستان نیز نشر این چنین گزارش‌ها را غیر واقعی خوانده و به امریکا و شرکایش گوش‌زد می‌کند که به جای تیوری توطئه باید، اذعان کنند که در بیست سال پسین در تأمین امنیت افغانستان ناکام بوده‌اند.

حالا که امارت اسلامی در همکاری نزدیک با ملت امنیت سراسری را در کشور تأمین کرده و در راستای تعامل و نزدیکی با کشورهای منطقه، دستاوردهای مضاعفی مانند واگذاری سفارت‌خانه‌ها و قنسلگری‌های سیاسی، روابط دیپلوماتیک، داد و ستد تجاری و ترانزیتی و صدها مناسبت‌های مثبت دیگر دارد، باید این نظام مردمی را به رسمیت بشناسند نه اینکه با نشر همچون گزارش‌ها، خواب دوباره افغانستان را در سر بپرورانند و بدانند، همانگونه که سال، ماه و اوضاع فرق می‌کند، وضعیت سیاسی جهان و منطقه نیز در حال تغییر و جهان دارد از یک قطبی شدن، خارج و کشورهای منطقه در صدد نظم نوین جهانی اند.

بنابرین امریکا بداند که مردم افغانستان امروز به پختگی سیاسی خود رسیده دوست و دشمن را بهتر از دیروز تفکیک و منافع علیای کشور برای‌شان اولویت دارد و امارت اسلامی نیز با روی‌دست گرفتن برنامه‌های مدون و تطبیق پروژه‌های عمرانی در سطح کشور، اطمینان شهروندان افغانستان را نیز به دست آورده که امارت اسلامی یگانه نظامی است که بدون در نظرداشت مسایل قومی، سمتی، زبانی و مذهبی در خدمت مردم افغانستان و آبادی و شکوفایی متوازن کشور است و آنروز نیز دور نخواهد بود که تمام جهان به واقعیت‌های موجود در افغانستان، مهر تائید بگذارند.

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانی
شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷٦۷۸۸٤٤۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Wednesday 26 April 2023 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 165

حکومت له کورنیو سرچینو د برېښنا د تولید لپاره پنځه کلن پلان لري

د افغانستان د انرژۍ او اوبو وزارت ویاند څرګنده کړې؛ په هېواد کې د برېښنایي ستونزو د حل لپاره د برېښنا تولید پروژې مو کاري لومړیتوبونه دي.د دغه وزارت ویاند قاري مطیع الله ویلي؛ د سروبي دوهیم برېښنا بند او "باغ دره" نومي بند جوړول هم د دغه وزارت په پنځه کلن پلان کې د پاملرنې وړ دي.د دغه وزارت ویاند قاري مطیع الله وایي، د سروبي د دوهیم بند... ۵مخ

یو تن له سولرې هندارو کم مصرفه برېښنا اختراع کړې

په کندهار کې د اشرف غني په نوم یو تن د «نور» په مرسته په څلورو طریقو له سولرې هندارو څخه د ۲۴ ساعته برېښنا د تولید په لومړۍ ازموینه کې بریالي شوي.د کندهار د تخنیکي او مسلکي زده کړو مرکز غړي وایي، که څوک همکاري وکړي، کولای شي چې تر دې وروسته بازار ته د شپې له لورې برېښنا برابره کړي.اشرف غني د دوو اوونیو په ترڅ کې توانېدلی چې د شل زره افغانیو په لګښت... ۵مخ

مشکلات پروژه مکروریان پنجم بررسی شد

محترم شیخ حمدالله نعمانی سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن، با شماری از باشندگان مکروریان پنجم دیدار کرده و در مورد حل برخی مشکلات در پروژه مکروریان پنجم صحبت کرد.این باشندگان مشکلات شان را در رابطه با پرداخت اقساط به شرکت قراردادی... ص۵

د کندهار اوسېدونکو د پنتاګون بې منطقه ادعاوې په کلکو ټکو وغندلې

درې ورځې وړاندې د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد په خپله ټویټر پاڼه ولیکل: چې ځینو لوبډیځو رسنیو راپورونه خپاره کړل، چې ګواکې د امریکا د دفاع وزارت یو ډاکیز سوي سند ښیي، چې افغانستان په اصطلاح د ترهګرۍ په مرکز بدل سوي، چې په خبره یې افغانان دا ادعا په کلکو ټکو ردوي. ښاغلي مجاهد دغه راز لیکلي: افغانستان د سیمې په کچه په یو امن هیواد بدل سوي او د سړ کال کوچني اختر یې ترټولو ښه ښلکه ده، چې له نېکه مرغه په ټول هیواد کې هیڅ امنیتي پېښه نده سوې او په سیاسي او ډیپلوماټیکه برخه کې هم له نړیوالو سره د مسلسلو پرمختګونو او تعامل شاهدان یو.په کندهار کې هم عام خلک د آمریکا د دفاع وزارت دا ادعاوې بې بنسټه، درواغ او ناکامه هڅه بولي. دوي وایي؛ ټوله نړۍ باید اوس په دې پوه سي چې د افغانانو او له افغانستان سره د ښو اړیکو لرونکو هیوادونو عامه ذهنیت په دا ډول ناکامه هڅو نه خطاایستل کیږي. دوي د اوسني اسلامي نظام څخه خوښ او کلک ملاتړ ورڅخه ښیي.په یاد غبرګون کې ښاغلي ذبیح الله مجاهد لیکلي: دا چې د اسلامي امارت له تعهداتو او عملي اقداماتو سره ـ سره بیا هم افغانستان نړۍ ته خطر معرفي کیږي او ددې پرځای چې دلته د موجود امن، ثبات او اسلامي امارت د مثبتو پیغامونو هرکلي وسي، دا ډول مغرضانه راپورونه د دې ښکارندوي دي، چې په امریکا کې ځیني کړۍ لا هم د افغانستان له خلکو سره له مخالفت او دښمنۍ څخه نه دي لاس په سر سوي.

ننګرهار کې د سیکارام دودیزه مشاعره ترسره شوه



د مشاعرې تنظیموونکي او د سپین غر خوانانو ټولنې مشر عبدالوکیل ملکزي وایي، په دغې مشاعرې کې د هېواد له بېلابېلو سیمو د شاعرانو او د ادب مینه‌والو ترڅنګ د کوزې پښتونخوا شاعرانو او لیکوالانو هم ګډون کړي و.

نومورې د یادې مشاعرې جوړېدو هدف شعر ته د خلکو هڅول او له همدې لارې نړۍ ته د سولې پیغام رسول یادوي.

ملکزي زیاتوي:«د سیکارام مشاعره هر کال د سپین غر ټولنې څوانانو له لورې جوړېږي. په سرنۍ مشاعره کې له کابل، پکتیا، پېښور، خوست، نورستان او لغمان ولایتونو کې شمېر شاعران راغلي او خپل نظرئیات یې له ګډونوالو سره... ۵مخ

رومانیا کې ۳۰ تنه غیر قانوني افغانان نیول شوي

د رومانیا پولیسو ۳۰ تنه افغانان دغه هېواد ته د ناقانونه ورتلو په خاطر نیولي او بلغاریا ته یې لېږلي. د رومانیا رسنیو ویلي، چې دا افغانان له بلغاریا ور اوښتي وو او اکثر یې تر ۱۸ کلونو کم عمره وو. د دوي د قاچاق په تور یو بلغاریایي تبعه هم نیول شوي دي. پولیسو ویلي چې دغو افغانانو هېڅ ډول سندونه نه درلودل او ویل یې چې د افغانستان اوسېدونکي دي.

زابل کې د څلورو ولایتونو ترمنځ د کرېکټ سیالۍ پیل شوې

د زابل کرېکټ امریت خبر ورکوي چې د څلورو ولایتونو ترمنځ کې د شل اورونو اوه ورځنۍ سیالۍ پیل کړې چې هدف یې په ولایتي او ملي کچه د زابل ښه تصویر وړاندې کول او د کرکټ لوبغاړو ظرفیت لوړونه ده.د زابل کرکټ امر محبوب محبت باختر اژانس ته وویل، دا سیالۍ شل اوریزه دي اوه ورځې به دوام وکړي، چې د هرات، هلمند غزني او زابل ولایتونو لوبډلې پکښې ګډون لري. هغه وویل له دې لوبو یې هدف د افغانستان ښه انځور وړاندې کول او همدارنګه په ولایتي کچه د کرکټ برخې ته پاملرنه او د ځوانو لوبغاړو ظرفیت لوړونه ده.یو شمېر لوبغاړو د دې لوبو په جوړولو خوښي څرګنده کړه او ډاډ یې ورکړ چې دا لوبې کولای شي د ځوانو کرکټ استعدادنو د غوړونې برخه کې موثرې تمامې شي.لوبغالي ته راغلیو زرګونو مینوالو په خپلو شور سره لوبغاړي بدرګه کول دوي وویل لومړۍ د سولې او امن اختر دي او دیرې مهمې کرکټ سیالۍ جوړې شوې چې دوي پکښې ګډون کوي

ابتالیا کې ۲۰ کډوال ډوب شوي

سرچینه زیاتوي چې دغه کډوال په یوه وړه کښتۍ کې سپاره وو چې په مدیترانې سمندر کې ډوب شوې او یو تن مړ شوي دي.په سمندر کې کب نیونکي پر دې توانېدلي چې ۳۴تنه کډوال په اوبو کې له ډوبېدو څخه وژغوري چې اته مېرمنې او شپږ ماشومان هم پکې شامل دي.د ایتالیا د حکومت ساحل ساتونکو د ورکو شویو کسانو د پیدا کېدو لپاره هڅې پیل کړې دي.د ایتالیا حکومت ویلي چې د روان میلادي کال... ۵مخ

په خوست کې د کرېکټ او فوټبال سیالۍ پای ته ورسېدې

په خوست کې د فوټبال او کرېکټ دوه لیګونه چې په روژه کې پیل شوي وو، پای ته ورسېدل. د دغو لوبو نندارې ته د سیمې زرګونه مینه وال راټولېدل. د دیوه ګروپ لس اوریز کرېکټ لیک جوړوونکي جهاد سنګین وایي، په دې لوبو کې ۱۶ لوبډلو برخه اخیستې وه چې پای لوبه یې افضلي کرېکټ کلب وګټله.سنګین زیاته کړه، د دغو لوبو هدف په روژه کې د لوبغاړو لپاره د تمرین او لوبو زمینه برابرول وو:«دیوه ګروپ خوست رمضان لیک کې ۱۶ لوبډلې وې چې په څلورو ګروپونو وېشل شوې، هرې لوبډلې درې درې لوبې وکړې. په خپل ګروپ کې تقریباً ټولې یې ۱۷ ورځې ونیوې.»د محمد بلال په نوم یو تن لوبغاړي وایي، په دغو سیالیو کې یو شمېر نوي لوبغاړي را څرګندېږي او په خبره یې، د لوبغاړو وړتیاوې هم ورسره لوړېږي:«دغه ټورنمنټ دېر ارزښتونه لري، هغه لوبغاړي چې پټ دي په دې ټورنمنټ کې معلومېږي، چې څه ډول لوبه کوي، څه... ۵مخ

هرات:
۲۰۳ رویداد ترافیکی در روزهای عید رخ داده است

مسوولان در هرات، از وقوع ۲۰۳ رویداد ترافیکی در سه شبانه روز عید در این ولایت خبر می‌دهند.

داکتر محمد عارف جلالی سرطبیب شفاخانه حوزوی هرات، می‌گوید که ۲۰۳ حادثه ترافیکی در سه شبانه روز عید در هرات رخ داده است.

وی می افزاید که افراد آسیب‌دیده ۳۴ کودک، ۳۶ زن و باقی‌مانده مردان هستند، اما در این رویدادها کسی جان نباخته‌است.

به گفته وی، بیشترین این حادثات با موترسایکل‌ها صورت گرفته است که عامل آن جوانان اند.

با این‌حال، آمریت گردشگری ریاست اطلاعات و فرهنگ هرات نیز از ورود پنج گردشگر خارجی و تعداد زیادی از گردشگران داخلی جهت بازدید از زیبایی‌های این ولایت خبر داده، می‌گویند که این گردشگران دلیل سفر شان را تامین امنیت بهتر بیان کرده‌اند.

مبارزه با ملخ از سوی ریاست زراعت سرپل آغاز شده است

انجنیر نصرالله مدیر نشرات ریاست زراعت سرپل به آژانس باختر می‌گوید؛ پنجصدوپنجاه‌هکتار زمین زراعتی در قریجات ولسوالی‌های گوسفندی و سانچارک جهت محو و از بین بردن ملخ ها از سوی مدیریت حفاظه نباتات این ریاست سم پاشی شده است. وی می افزاید؛ مجادله علیه ملخ های مضره که از تاریخ ۱۵حمل آغاز گردیده، فعلا کار پاکسازی آن در مناطق مختلف جریان دارد.به گفته ی مدیر نشرات زراعت سرپل برای دهاقین و زمین داران جهت مبارزۀ بهتر با ملخ ها از سوی کارمندان مسلکی این ریاست آموزش های میکانیکی و کمیاوی صورت گرفته است.